لیکوال: خلیل نوری

الهام شوی د ریښتیني پېښې پر بنسټ

دلومړی ځل له پاره په ۱۸۹۵ عیسوي کال کې د امیر عبدالرحمن خان واک پر ټول خاوره د افغانستان خپور شوی وو. نو اوس امیر ددې هیله درلود چه خپل دیپلوماتیک اړیکې په مستقیم ډول د لندن سره ټینګ کړي. دواړو خواوې دې سفارتونه په کابل او په لندن کې پرانیزی او نور به افغانستان خپل تعاملات د بریتانوي هند د دولت له لور د لندن سره نه ترسره کوي.

تر دې دمه د افغانستان بهرني سیاست په بشپړ ډول د بریتانیا په لاس کې وو او داسې جوړښت یې درلود چه د تزاري روسیه د پرمختګ بریتانوي هند لور ته خنډ وي او ترې مخنیوی وکړي. د بریتانیا او تزاري روسیه تر مینځ افغانستان د یو غیر متخاصم سیمې اهمیت یې درلود.

سره له دې سیاسي حساسیت، امیر خپل د دوه زامنو هر یو حبیب‌الله او نصرالله د مشورې نه وروسته پریکړه وکړه چه لندن ته ددې د رسمي لیدنې چارې پیل او د ملکه ویکتوریا سره د مخامخ لیدنه کتنه غوښتنه دې واستول شي. په همدې تړاو امیر د خپل شخصي انګریزي ډاکتره مېرمن لیلیاس همیلتون ته امر وکړ چه یو تشریفاتی غوښتنلیک دې د امیر د بلنې دپاره لندن ته د ویندسور ماڼی ته واستول شي. امیر د ملکه ویکتوریا هندي، باوري او متنفذ منشي عبدالکریم سره هم په تماس کې شو چه د منشي له خوانه ډاډ ترلاسه کړل چه د امیر لیدنه کتنه د ملکه ویکتوریا سره به هرو مرو تر سره کېدونکی وي.

خو امیر ناروغ شو او نس یې ډېر سخت خوږېده نو د یو اوږد سمندري مزل لندن ته توان نه درلود نو پریکړه وکړه چه خپل شل کلن زوی نصرالله دې هلته واستوي. نصرالله د یو نوي کسیزه ډلې په مشري او ملګرتیا د بمبي له لورې په یو بریتانوي نظامي کښتۍ کې د لندن پورتماوت خوا ته روان شول. له تګ نه مخکې، نصرالله د درباري تشریفاتو، آدابواو معاشراتو زده کړه یې د ډاکتره لیلیاس همیلتون نه تر لاسه کړی وو.

بې اطاعت او نا امید شهزاده نصرالله خپل پاتېکېدل یې په لندن کې د یو میاشت دپاره وغزول چه د ویندسور د ماڼۍ خپګان یې رامنیځته کړی وو.د ځوان او ناراضه شهزاده نصرالله د پاره دا چه د افغانستان د بهرني سیاست واک د دې پلار ته ورنکړل شو د زغملو وړ نه وو. وروسته هغه په قهر شو او خپل ملګرو ته یې امر وکړ چه دخپل ستوګنځای دورچستر هوز، چه په مایفیرکي موقعیت درلود، کړکي دې خلاصه کړي او خپلو ټوپکونو سره چه هلته یې اخیستي وې او د ودانۍ ټول کوټې یې ترې ډکې کړي وو هوایي ډزې وکړې، چه د شا او خوا سیمې خلک وډارېدل او په تېښته شول چه ځانونه وژغوري. د بریتانیا دولت پر دې برۍ نه شو چه د نصرالله د قهر او غضب مخه ونیسي او هغه قانع کړي چه ډزې دې بند کړي، تر څو چه یو بریتانوي سړی، عبدل کویلن، چه مسلمان شوی وو قرآن یې نصرالله ته یوړل او ترې وغوښتل چه د قرآن په درناوی دې ډزې بند کړي. په دې ډول د شهزاده نصرالله تګ لندن ته د سپتمبر په درېیم نېټه د ۱۸۹۵ ع کال کې پای ته ورسېد.

نصرالله د پاریس او روم د لارې نه په یو نظامي کښتۍ کي کراچي ته او بیا بېرته افغانستان ته ستون شو.